هفته‌نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
شنبه، د شوال المکرم 12 مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۵۲
مسلسل نمبر: #۴۵
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست



## سرلیکنه

په افغانستان کې د ژمي له نیمايي را په دې خوا بیا تر دي مهاله لومړی درنې واورې واوریدې او د پسرلي په موسم کې بیا پرله پسې بارانونه وشول. ددې بارانونو له امله د هېواد په مرکزي، شمالي، شمال- ختیځو، سویلي او لویدیځو ولایتونو کې سخت سیلابونه راووتل. دې سیلابونو د سړکونو، پلونو په ګډون په زرګونو جریبه کرنیزې ځمکې یووړې. خلکو ته یې درانه مالي زیانونه واړول. په دې برخه کې فعالي اداري وایي چې په راتلونکي کې د نورو اورښتونو اټکل هم شته او دا اورښتونه ځکه د اندېښنې وړ دي چې په افغانستان کې د اوبو زېرمې ډکې شوې، له دې سره کیدای شي نور سیلابونه هم راووځي.

له سختې وچکالۍ وروسته سږ کال د اورښتونو کچه په هاغه اندازه وه چې څومره په هېواد کې ورته اړتیا وه. له دې سره د افغانستان د خلکو په تېره د کروندګرو مراوې هیلې یو څه ناخه راژوندۍ شوې وې، ټول په دې فکر و چې سږ کال به له خپلو ځمکو پوره حاصل ترلاسه کړي. د دوی دا فکر پر ځای و ځکه هر څومره چې اورښتونه زیات وي، د اوبو سطح لوړه او اوبه پرېمانه وي، نو په هماغه کچه بېلا بېل کرنیز محصولات هم زیات وي. له دې سره بیا د کروندګرو عاید هم لوړ وي او پر اقتصاد یې مثبته اغېزه کوي. خو له بده مرغه چې په دې وروستیو کې په هېواد کې د اورښتونو له امله په زیاترو سیمو کې سخت سیلابونه راووتل. د ځینو بنسټونو د معلوماتو له مخې چې په دې سیلابونو کې زرګونه جریبه کرنیزه ځمکه ویجاړه، په سلګونو کورونه زیانمن او په همدې شمېر څاروي له منځه تللي دي. د دې ترڅنګ ولایتونو او ولسوالیو ته غځېدلي لارې او سړکونه وران او په ځینو سیمو کې پلونه نړیدلي دي. دا مالي زیانونه هم په کره ډول نه دي اټکل شوي، خو سره له دې هم ویلای شو چې کچه یې سلګونو میلیونو افغانیو ته رسیږي.

اوښتي زیانونه به نه یوازې د خلکو پر اقتصاد منفي اغېزه وکړي، بلکې په ملي اقتصاد هم ناوړه اغېزه کولای شي. خو د طبیعي پېښو اټکل او مخنیوی د انسان له وسه وتلي دي. ولې حکومتونه ددې مسوولیت لري چې له امله یې د زیانمنو کسانو لاسنیوی وکړي او کوم اقتصادي زیان چې رامنځته شوی، د خپلو کارنده پالیسیو او پلانونو له مخې جبران کړي.

اسلامي امارت د یوه مسوول حکومت په توګه پر خپل وخت د طبیعي پېښو له امله د زیانمنو خلکو لاسنیوی کړی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند جنوبي ولایتونو ته د خپل سفر پرمهال مسوولینو ته سپارښتنې وکړې، چې د طبیعي پېښو له امله له زیانمنو خلکو سره مرستې وکړي. په اوږدمهال کې اسلامي امارت پلان لري چې د هغو زیانمنو کسانو چې کورونه یې ویجاړ شوي او یا یې ځمکې سیلابونو لاندې کړې دي، مرسته وکړي. موږ او تاسو ته یاد دي چې په هرات ولایت کې سخته زلزله وشوه، خو اسلامي امارت د خپل پلان له مخې د هغوی له پاره سرپناه جوړه او دادی اوس د هرات زیاتره زلزله ځپلي د خپلو کورونو څښتنان دي. له دې څخه جوته شوه، چې اسلامي امارت د ژمن حکومت په توګه په هېڅ صورت هغه خلک له یاده نه باسي چې له طبیعي پېښو څخه زیانمن شوي دي.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به ولایت ارزگان سفر نمود



۲ مه صفحه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له کجکي بند څخه لیدنه وکړه



۲ مه صفحه

## په افغانستان کې د بانکي سکتور وضعیت ته ځغلنده کتنه




۳ مه صفحه

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به ولایت ارزگان سفر نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به تاریخ ۲۷ ماه حمل سال ۱۴۰۳ خورشیدی جهت کمک به هموطنان آسیب دیده از اثر جاری شدن سیلاب های اخیر به ولایت ارزگان سفر نمود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در سفر جریان به ارزگان با مسؤلین، مجاهدین و باشنده‌گان این ولایت دیدار و از همکاری لازم به دلیل خسارات ناشی از سیلاب های اخیر اطمینان داد.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مورد انجام امور به شکل مناسب به مسئولان این ولایت توصیه های لازم را ارائه و از آنان خواست تا با صداقت و امانتداری به هموطنان آسیب دیده خود خدمت کنند. محترم ملا صاحب گفت: «اینها کسانی هستند که برای برپا نمودن نظام اسلامی هر نوع فداکاری ها را انجام داده و تکالیف زیادی را متحمل شده اند و اکنون حق دارند که امارت اسلامی برای آنها زندگی مرفه فراهم کند.»

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود، هموطنان ما در هر نقطهٔ از کشور که دچار مشکل شوند، مسؤلین امارت اسلامی مؤظف اند تا از وضعیت آنان باخبر و به مشکلات آنان رسیدگی کنند.

سپس باشندگان این ولایت از سلوک مسؤلین ملکی و نظامی امارت اسلامی ابراز خرسندی نموده، گفتند که مسؤلین امارت اسلامی همیشه به مشکلات انان رسیدگی نموده اند. آنان همچنان افزودند که خوشحال اند ازینکه تمام افغانستان تحت یک نظام کاملاً اسلامی قرار گرفته و نفرت، تعصب قومی و نفاق از این کشور ریشه کن شده است.



# د رياســت الــوزراء اقتصادي مرســتيال له کجکي بند څخه ليدنه وکړه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د وري مياشتي په ۲۷مه نېټه هلمند ولايت ته د خپل سفر پرمهال له کجکي بند څخه ليدنه وکړه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کجکي بند پروژې د مسوولينو د ترسره شوو چارو ستاينه وکړه او هغوی ته يې د کارونو د لا ښه والي په موخه لازمي سپارښتنې وکړې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د کجکي بند پروژه ملي او حياتي وبلله او په دې برخه کې د رامنځته شويو نوښتونو له امله يې د مسوولينو د هڅو قدرداني وکړ.

محترم ملا صاحب وويل چې وچکالی او په بندونو کې د اوبو د کمښت له امله د برېښنا د توليد کچه هم راټيټه شوې وه، خو سږ کال په هېواد کې د پرېمانه اورښتونو له امله د اوبو کچه لوړه شوې او د کجکي بند په څېر زياتره بندونه له اوبو ډک شوي دي. له دې سره به په روان کې کال د کرنې برخه وده وکړي او هم به په هېواد کې دننه د برېښنا د توليد کچه لوړه شي.

د يادونې وړ ده، چې د کجکي بند د هېواد په کچه يو له لويو بندونو څخه دی، چې د هلمند ولايت په کجکي ولسوالۍ کې د هلمند پر سيند د موسمي سېلابونو د کنټرول، کرنيزو ځمکو خړوبولو او برېښنا د توليد په موخه جوړ شوی دی.

# په افغانستان کې د بانکي سکټور وضعیت ته ځغلنده کتنه

ليکوال: فضل ولي شيراني




## سريزه

کله چې د کابل پخوانۍ اداره ړنګه او پر ټول هېواد اسلامي امارت واکمن شو، جګړه خو پای ته ورسېده، ولې له دې ستر تحول سره هېواد له اقتصادي ستونزو سره مخ او بانکي سکټور ټکنی شو. تر ټولو جدي ستونزه چې سملاسي يې عام خلک اغېزمن کړل، دا وه چې په امريکا کې د افغانستان بانک زېرمې کنګل شوې، مرکزي بانک د نغدو پيسو له کمښت سره مخ شو او له امله يې د افغانستان بانکونه خلکو ته د هغوی د پيسو په ورکولو کې پاتې راغلل. د افغانستان بانک په لومړي ګام کې اعلان وکړ، چې د اوس له پاره د انفرادي حسابونو خاوندان هره اوونۍ ۲۰ زره افغانۍ او يا ۲۰۰ ډالره له خپل حساب څخه اخيستلی شي. همدا راز د سپټمبر پر ۱۵مه مرکزي بانک شخصي شرکتونو ته هم له خپلو حسابونو څخه هره مياشت د ۲۵۰۰۰ ډالرو د اخيستلو اجازه ورکړه. د همدغه وضعيت له کبله د افغانۍ ارزښت مخ په ټيټېدو شو او د توکو بيې لوړې شوې. له دې وضعيت وروسته له خلکو سره بېلا بېلې پوښتنې راولاړې شوې. دا چې نوی نظام به وکولای شي اقتصادي کړکيچ مهار کړي؟ يا دا چې د افغانستان د بانکونو وضعيت او د نغدو پيسو د ورکړې ستونزه به کله او څه ډول حل شي؟ په همدې ډول يو لړ نورې پوښتنې. موږ په دې ليکنه کې غواړو همدې پوښتنو ته ځواب پيدا کړو، نو له همدې امله مو په افغانستان کې د بانکي سکټور تاريخچې ته کتنه، په اقتصادي وده کې د بانکوالۍ ونډه، د بانکوالۍ پر وړاندې پرتو خنډونو او په بانکي سکټور کې د اسلامي امارت لاسته راوړنو ته اشاره کړې ده.

## په افغانستان کې د بانکي سکټور تاريخچې ته کتنه

ښه ده، چې په افغانستان کې د بانکي سکټور له تاريخچې وړاندې په نړۍ کې د بانک د رامنځته کېدو تاريخ ته ورشو. دا چې بانک کله رامنځته شوی دی؟ په دې اړه به لنډ معلومات وړاندې کړو او بيا به په افغانستان کې د بانکوالۍ پر رامنځته کېدو وغږېږو. په دې اړه کره معلومات نشته چې بانک څه وخت رامنځته شو. خو له ځينو اثارو څخه دا په ډاګه کيږي چې له ميلاد څخه مخکې په بابل کې حمورابي بادشاهي درلوده، د ټولنې د نظم له پاره يې قوانين رامنځ ته کړل. بابل ښار کې د سوداګرۍ خونې او بانکونه موجود وو چې سوداګرو او بزګرانو ته يې پور ورکاوه. ورپسې په يونان کې بانکي معاملات له ميلاد څخه مخکې ترسره کېدل. خلکو به په هغه وخت کې خپل امانتونه په معبد کې ايښودل، هغه په دې خاطر چې معبد د امانت ساتلو له پاره بهترين ځای او له داخلي جنګونو څخه په امان کې وو. د يونان له زوال وروسته بانکوالۍ په روم کې هم پرمختګ وکړ چې له اوسني بانکي سيستم سره يې ډېر ورته والی درلود لکه د خارجي پيسو تبادله او د هغې لپاره د نرخ ټاکل، د امانتونو اخيستل او قرض ورکول، د جاري او پس انداز حسابونو پرانيستل، د اعتبار ليک صادرول او داسې نور. دغه راز په چين کې هم بانکوالي شپږ پېړۍ مخکې له ميلاد څخه رواج درلود، د کاغذ په اختراع سره چې۱۰۵ کاله مخکې له ميلاد څخه وشوه، دې چارې د بانکوالۍ په فعاليتونو کې ډېره زيات مرسته وکړه. د کاغذ تر کشف وروسته د بانکي اسنادو تنظيم، د محاسبې حسابونو ساتل او د اسنادونو حمل او نقل په ارزان بيه ترسره کېده. په دې ډول د بانکوالۍ سيستم ورځ تر بلې پرمختګ وکړ او د نړۍ په ټولو هېوادونو کې دود شو . په افغانستان کې شاوخوا اته لسيزې وړاندې بانکوالي پيل شوې ده. د لومړني بانک د بنسټ ډېره د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په لومړي کال کېښودل شوه. لومړنی بانک افغان ملي بانک و چې په ۱۳۱۲لمريز(۱۹۳۳م) کال کې د عبدالمجيد زابلي له خوا جوړ شو. دې بانک تر شپږو کلونو پورې د مرکزي بانک دنده هم پرمخ بيوله، خو په ۱۳۱۸ (۱۹۳۹ م) کال کې کله چې د افغانستان بانک جوړ شو، نو بيا هماغه بانک د مرکزي بانک په توګه پېژندل کېده. له هغه مهاله د افغانستان بانک د مرکزي بانک ټولې دندې پرمخ بيايي. ددې بانک مهمې دندې د مالي تګلارې جوړول او عملي کول، د بهرنيو اسعارو ساتل، د افغاني بانکنوټونو چاپ او وېش او نورو بانکونو ته د کار د اجازه ليکونو صادرول دي.



(۱۲۰) میلیونه افغانیو په لومړۍ پانګې سره په کار پیل وکړ. ددې بانک لومړی رئیس جنت خان غروال و. هغه مهال چې نومړی د یاد بانک مسوول و، دده د مسولیت پرمهال یاد بانک زیاتې لاسته راوړنې درلودې چې د پښتني بانک لس لوی مرکزي مدیریتونه، پنځه ښاري څانګې، څلور ولایتي نمایندهګۍ، درې نمایندګۍ په بندرونو کې او درې نمایندګۍ له هیواد څخه بهر د پیښور، چمن او کراچي په ښارونو کې د بېلګې په ډول یادولی شو. د ۱۳۵۵ لمریز کال د جوزا په میاشت کې د دولت له خوا د افغانستان د صادراتو پراختیا بانک جوړ شو. ددې بانک مهمه دنده دا وه، چې د افغانستان صادراتو ته وده ورکړي او هغو کسانو ته پور ورکړي چې د افغانستان د صادراتو او وارداتو په برخه کې کار کوي.




او تجارتي بانکونه موجود و چې هر یوه یې په خپله څانګړې څانګه کې کار کاوه، لکه پښتني سوداګریز بانک، ګروي او تعمیراتي بانک، کرنې پرمختیایي بانک، صنعتي پرمختیایي بانک او صادراتو پرمختیایي بانک نومونه د یادولو وړ دي. دې ټولو په خپله برخه کې فعالیت درلود او د هیواد په اقتصادي وده کې یې ونډه درلوده. وروسته ددې بانکونو ځای خصوصي بانکونو ونیو. که څه هم پر دې سترګې نه شو پټولی چې د دولتي بانکونو ترڅنګ د خصوصي بانکونو جوړښت یو ګټور نوښت دی خو په دې شرط چې هغوی په سمه توګه کنټرول شي . اوسمهال په هیواد کې ډېری خصوصي بانکونه فعالیت کوي، اسلامي امارت پر دغو بانکونو د څارنې ترڅنګ د هغوی ملاتړ هم کوي او دغه راز یې د دولتي بانکونو د پیاوړي کولو او پرمختګ له پاره کار پیل کړی دی. دا چې په اقتصاد کې د بانکوالۍ ونډه څه ده دا به لاندې په ګډه سره ولولو.




## په اقتصادي وده کې د بانکوالۍ ونډه

پانګونه په اقتصادي وده کې ټاکونکی رول لري. د هیوادونو یوه بنسټیزه موخه اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته لاسرسی دی. په اقتصادي ادبیاتو کې پانګه د یوه اقتصادي نظام د شارګ حیثیت لري او د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او ودې د ټاکوونکي لامل په توګه پر هغه زیات ټینګار شوی دی. اقتصادي وده په اقتصادي سیما او ګټه پورې تړلې ده او دا دواړه د پانګونې په بهیر پورې تړاو لري. د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په برخه کې کولای شو بانکونو ته چې د مالي بازارونو اصلي برخې دي، اشاره وکړو او بانکونه د اقتصادي او ټولنیزې پانګې په برابرولو کې مهم رول لري. دا چې په اقتصاد کې د مالي سرچینو سمبالښت او تخصیص د بانکونو پر غاړه دی، نو له دې امله په هره ټولنه کې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره د بانکونو له رول څخه انکار نه شي کیدای. د بانک اهمیت او رول ته په کتو، له اقتصادي او ټولنیز پلوه ددې بنسټ د رول په څېړنې سره کیدلای شي، څېړونکو ته د اقتصاد له نظره ډېر مبهم مسایل رابرسیره شي، څو د هیواد په کچه د شته ستونزو د هوارې او د پانګونې او نورو سرچینو د موندلو له پاره بېلا بېلې منابع پیدا کړي.

که نن ورځ د نړۍ نورو پرمختګونو ته وګورو نو وبه وینو چې د ژوند په بېلا بېلو برخو کې څومره اسانتیاوې رامنځته شوې دي. له دې برخو څخه یوه هم د پولي معاملو برخه ده. په دې برخه کې هم زیاتې اسانتیاوې منځته راغلې دي او دا هر څه د بانکوالۍ په برکت ترسره شوي دي. بانک یوازې ددې له پاره نه دی چې پیسې پکې خوندي شي، بلکې له دې لارې کولای شو په ډېره اسانۍ سره خپلې ټولې پولي معاملې ترسره او په کار روزګار کې مو هم کوم خنډ رامنځته نه شي. دغه راز که د نړۍ پرمختللو هیوادونو ته وګورو د هغو په اقتصادي پرمختګ کې تر ډېره بریده بانکي سیستم رول لوبولی دی. بانکونه د هغو خلکو پانګه چې کار نه ترې اخلي راټولوي او بیا یې په کار اچوي، په دې کار سره له یوه لوري د پانګې اندازه زیاتیږي او له بل لوري کوم خلک چې د خپل کاروبار له پاره پانګې ته اړتیا لري، له بانکونو څخه د پور په ډول ددې پانګې په ترلاسه کولو سره خپل کاروبارونه او سوداګري پیاوړي کوي. بله مهمه خبره داده کله چې په ملي اقتصاد کې د اقتصادي پرمختیا له پاره هڅې پیل او د ملي اقتصاد د پرمختګ له پاره تولیدي عوامل په کار اچول کیږي؛ نو د پانګې له پاره تقاضا مخ په زیاتیدو شي، ددې له پاره چې دا تفکیک کړي چې کوم کارونه لومړی او کوم کارونه ورپسې ترسره شي، دغه راز د پانګې کموالي ته هم ځواب ووایي، نو بانک ته اړتیا ده، څکه دا اداره کولای شي د تولیدي چارو په ګډون د نورو کارونو د پیل په موخه کم او زیات پورونه په مناسب ډول ورکړي. سوداګریز بانکونه د صادراتو د تشویق او لازیاتیدو په موخه اسانتیاوې رامنځته کوي او دا کار د تادیاتو پر بیلانس هم مثبت اغیزه کوي. صنعتي سکتور ته د پورونو ورکولو له کبله د ملي اقتصاد ډېری بې روزګاره کسانو ته د کاررزمینه برابروي. دا ټول هغه څه دي چې په اقتصاد کې د بانکوالۍ ارزښت په ګوته کوي، نو له دې امله په کار ده چې دا سکتور له هره پلوه سمبال او غښتلی شي، څو د یوه هیواد د اقتصاد د ودې او پرمختګ ترڅنګ په هیواد کې د بې کارۍ ستونزې ته هم پای ورکړي.




پاتې په بله ګڼه کې